مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپېڅلی
۲۰۲۶/۰۸/۱۴

# د پتیال جانان

هر وخت، چې د شعر په خلوت کې د غزل له مخه پلو پورته کوو، نو موږ ته ډېروخت داسې شرنګیدلي الفاظ لکه د کوچې د لنډۍ زني شنه خالونه په مخ راځي.

هو، د همداسې پستو، مینه ناکو او جانانه خبرو منظم اوډولو ته د شعر پوهان غزل وايي.
غزل د شعرپه چوکاټ کې هغه فورم دی، چې خورا خوندور او په خپلو مینه ناکو پېیلو رنګینو الفاظو د هر لوستونکي توجه جلبوي.

که څه هم د غزل لمن لنډه خو دالنډوالی یې د لفظي او معنوي ښکلاوو په مټ دونده پیاوړی دی، چې اکثره د شعر مینه وال غزل لولي او غزل اوري.

په پښتو ادب کې د اکبر زمینداوري څخه رانیولي، بیا تراوسه پوري، چې هر پښتون شاعر غزل لیکلي، نو خپل محبوب یې په داسې ناز اونوازیاد کړی دی، چې لوستونکي ته داهیله پیداکیږي، چې کاشکې مې یوځل دده دلبر لیدلی وای!

د اوسنیو شاعرانو په کتار کې ځوانیمرګ عبدالقدیم پتیال یو له هغو شاعرانو څخه دی، چې په شعر کې یې د نورو اړخونو ترڅنګ د مینې پله خورا زرینه ده.

د پتیال شعري ټولګه انکارنومیږي.
دا ټولګه د شعر مینه والو ته پر نظمونو سربېره پنځه ویشت ټوټې غزلونه هم وړاندې کوي.

د پتیال غزل په ربښتیا غزلیز شور او کیف لري.
ځوانیمرګ شاعرعبدالقدیم پتیال په خپله شاعرۍ
کې زړه په یوچا پورې تړلی او دغه کس ته یې د غزل په نازکه ژبه د (جانان ) په نامه ور ږغ کړي دي.

پتیال د مینې په دریاب کې غرق او په ښکاره ناري وهي، چې هیڅوک یې د (جانان) له لیدو نه سي راګرځولای.
که هرڅومره دا لار له طوفانونو او پېچومو سره مخ وي، خو پتیال خپل جانان ته ځان رسوي او په لیدو یې نه مړیږي:

**«موږ له موج سره اشنا یو، ترتوپانه به ورځو**
**د لمرونو قاصدان یو، تراسمانه به ورځو**

**منصوري قهرمو ویښ دی، دارمونه سي ګرځولای**
**د خپل سرپه نذرانه کې ترجانانه پوري ځو.»**

جانان او پتیال لکه نوک او وری بیلتون یې په منځ کې نه ځایږي، مرګ قبلوي، درد مني ، خو وصلت له لاسه نه ورکوي.
پتیال وایي، په دې لارکې یې مبارزه ربښتني او هیڅ وخت به له خپلو جانانه خبرو وانه وړي، خو که بیخي حالت خراب سول، نو د جانان له غلچکي دیدونو څخه یې راګرځول د چا دتوان خبره نه ده، ځکه په دې لار کې یې وختي لا ځان دمرګ لاس ته سپارلی او د وصال په بدل کې مرګ ستربریالیتوب ګڼي.

**«په بېلتون کې دي ایره سم ، په وصال لکه اوربل سم**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

**ستا ليدولو ته جانانه ! کله کله سم دم غل سم**

**سم دم خاوري سوم ملګرو! د جانان د تک لپاره**
**خو يار تک کړي پرهندارو، زه بې څنګه د پښو پل سم؟»**

پتيال ته د جانان له ليدولو، مجلس او خبرو ماسوا ژوند يو خيالي انځور ښکاري.
پتيال وايي، هغه مهال به يې برياليتوب نصيب او د ستوريو په څېربه ځلېدلی وي، چې د جانان کور ته ځان ورسوي.
د پتيال زړه ، فکر او خيال ټول له جانان سره دی او که جانان ته ونه رسيږي، نو دژوند په يخو او سړو شپو کې ويښ پاته کيدل يې بې ګټي دي.

**«په لېو ستوري مو راوړي دايمان ترکوره**
**د اور پرلاره به ورځو نن د مغان ترکورهه**

**موږ په غلطه لار روان وو، ځان مو نه پيژندبی**
**نه مو ديدن سو او نه ولاړو د جانان ترکوره»**

اکثره وخت د جانان مينه پر پتيال دومره غالبه سوې ده، چي پر سپوږمي او ستوريو يې هم ناټ نه کښېني او په خورا مينه ناک انداز د جانان پرمخ پرتي اوښکي د ستورو له کتارونو سره تشبه او له دې حالت څخه راپيداسوی ښايست د لمريز نظام يو کتار ګڼي:

**«اوښکي دي پرمخ دانه دانه، د ستورو هار دی**
**حسن دي جانانه ! د سپوږمی او لمر کتار دی»**

که چيري د ستورو، سپوږمی او لمرتولي ښکلاوي  سره راغونډه سي، خوبياهم د ده د جانان پرمخ د پرتو اوښکو ښايست ته نه سي رسيدلای، چي دانو د شاعرانو په خبره د مبالغي اوج دی.

دلته ماته د يو بل شاعر، چي نوم يې زما له ذهن څخه وتلی، يو بيت راپه زړه سو، چي د پتيال له دغه بيت سره څه ناڅه سرخوري:

**«ياره زه تشبه درکړم له څه سره ؟**
**د ګل سره ازغي دي د سپوږمی پرمخ داغونه دي»**

دهمدغه د يار او نګار ستاينه پتيال په خدای ورکړي استعداد ځنګه ښه بيان کړي ده، چي په مطلق لوستلو د شعر دمينه والو زړه ته ځان رسوي.

خدای تعالی (ج) انسان يو عجيبه مخلوق پيدا کړی دی، کله چي په يوڅه پسي تلاښ کوي او وروسته  خپله ورکه په لاس ورسي، نو  له ډېري خوشحالی څخه  پرزياتو انسانانويوډول حيرانوونکی حالت راسي.
ډيره کله داسي سوي دي، چي ددغه حالت په سبب انسان له ځانه پردی او يا دا خوشحالي ورته يوه افسانه اود خوب ليدل ښکاره سي.

پتيال هم ځينی وخت، د جانان کورته رسيدو هيجاني کړی او وصلت ورته يوه افسانه ښکاره سوې ده، چي بيايي دغه حالت د شعر په مينه ناکه ژبه داسي بيان کړی دی:

**«په زړګي کي مي د يار هره پلمه ده پته پته**
**د جانان ترکوڅې پوري افسانه ده پته پته**

**هسي نوم يې ددنيا دی، کنې جوړه قتلګاه ده**
**ترهرپل لاندي خونکاره توره سره ده پته پته »**

يوازي د جانان کورته رسيدل او دهغه ليدل دومره مهم نه دي، لکه څومره چي د هغه خوشحالي او له خپل مين سره همږغي اړينه ده.

زموږ ځوانيمرګ پتيال هم دغه ټکي ته متوجه سوی دی.
نومورۍ وايي، که چيري جانان زما په ملګرتوب خوښ وي او يوځو ګړيه مي ځنګ ته په ورين تندي ومني ، نو بيا له هيڅ چا څخه نه ويريږي او نه په دې کار کي د چا لاربښووني ته اړتيالرم.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيز بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د پتیال په قول، که جانان راضي و،نو نوري لاري یې په کار نه دي او  پردې پل ځانله جنجالي سیند څخه د حقیقت بنارته رسول ګڼي:

**«چي رضا دي سوه جانانه ، څه به بېره له پل څه کړو**
**نه طاعت ته به حاجت وي، نه امام راڅخه غواړي»**

که پتیال هرډول د جانان په اړه وړغیږي، پرلوستونکو او اوریدونکو ځکه نه غمیږي، چي د موضوع لپاره فصیح او بلیغه بیان ، ژوره مطالعه او روان قلم لري.

همدغه ځانګړتیاوي ددې سبب سوی دي، چي یوه موضوع په بېلا بېلو خوندورو الفاظو داسي رانغاړي، چي هم یې رنګ او هم  یې کیف له نوښتونو ډک دی

د بېلګي په ډول یې د پورته بیت په ډول یوبل بیت هم لولو، چي موضوع یې تقریبا یوه ، خو د الفاظو په پېیلو کي دومره نوښت کړی دی، چي لوستونکي ته ګرسره نوې خبره ښکاري.

**«نه جنت نه دوږخ غواړو، بس جانان چي په لاس راسي**
**ګرانه شېخه صدقه دي سم درګیرکړه خلوتونه»**

همدارنګه پیتال په یو بل غزل کی بیا د جنت هیله د جانان خوشحالی ته قرباني کوي او وایي، اې جانانه ماته ستا رضا په کار ده او که ته راضي سوې، نو له ما څخه نوري هیلي او اسرې پاته دي:

**«نه مي نیت د میخاني دی، نه پرشونډو توبه ګرځي**
**بس پر زړه مي ستا د میني هرګړی سره لمبه ګرځي**

**تردرګاه، چي درسیږم ستا رضا ته اې جانانه**
**نه د ډارکیسه کي یمه ، نه جنت نه اسره ګرځي»**

زه  د ځوانیمرګ شاعر عبدالقدیم پتیال په اړه خپلي خبري ددوی د ارواح خوښی په موخه په دغو دوو بیتونو سره راټولوم، چي بیایي هم د جانان په یادونه سره رنګ او ښکلا  زیاته سوې ده:

**«له جانان سره په زړه کي تل داغم وي**
**هسي نه زما ویشتو ته کاڼي کم وي**

**کله کله د پتیال زړه ورک سي، غیب سي**
**خو، چي ګورې نو په لاس کي د صنم وي »**

............................................

۲۰۱۵/۱۱/۰۲
دغه مقاله په کندهار کي د ځوانیمرګ شاعر  عبدالقدیم پتیال د لومړي تلین په جوړه سوې غونډه کي هم لوستل سوې ده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو  همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ